DAILY

اراده

دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۳۰
شماره مسلسل ۸۹۷
شنبه ۳ جدی ۱۳۸۴ ه ش
۲۳ ذوالقعده الحرام ۱۴۲۶ ه ق
24 December, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ ه ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

د ولسي جرګې د رییس مرستیالان وټاکل شول

د افغانستان د ولسي جرګې د کار د پیل په څلورمه ورځ د رايو اچولو نه وروسته دوه تنه د لومړي او دويم مرستیال په توګه وټاکل شول.

د سرحدونو او قبایلو پخوانی وزیر محمد عارف نورزی د ۷۲ رایو په ګټلو سره لومړی مرستیال شو او له بدخشان څخه د ولسي جرګې یوه غړې فوزیه کوفي د ۴۹ رایو په ګټلو سره دویمه مرستیاله وټاکل شوه.

د ولسي جرګې د لومړي مرسیال د څوکۍ لپاره په سیالی کې د پلان او سوداګری پخوانیو وزیرانو محمد محقق او مصطفی کاظمي، د مخدره موادو پرضد د مبارزې پخواني مرستیال میرویس یاسیني او د سوداګری وزارت پخواني مرستیال نعیم فراهي برخه اخیستې وه. د ولسي جرګې د دویم مرستیال د مقام لپاره د ۱۰ نور و کسانو ترمنځ سیالی کیده. ۴مخ

حکم اعدام برای عاملین قتل و آدم ربایی

محکمه یی در کشور اعضای یک گروه تبهکار را که متهم به قتل و آدم ربایی هستند به مجازات سنگین از جمله اعدام محکوم کرده است.

تیمور شاه سردسته این گروه، متهم اصلی در ربودن کلمنتینا کانتونی امدادگر ایتالیایی در ماه می گذشته است.

تیمور شاه و دو تن دیگر از همدستانش که متهم به ربودن کلمنتینا کانتونی امدادگر ایتالیایی و قتل یک تاجر افغان هستند، روز پنجشنبه ۲۲ دسامبر در محکمه حاضر شدند. ص۴

د لوی او بښونکی خدای په نامه

سرمقاله

ای فقیه اول نصیحت کن تو نفس خویش را!!

با تشکیل شورای ملی مسایل مبرم ملی بسیاری در سر راه این ارگان قانونساز کشور و در برابر هر یک از وکلا قرار دارد نا رسایی ها و نابه سامانی های سه دهه، گذشته از یکسو و نابه هنجاریها و فساد و قانون شکنی ها و خود سریها وزورگویی های چار سال گذشته از سوی دیگر، مسایلی است که کار د را به استخوان مردم رسانیده و حکومت در مقابل آن به دلایلی ناتوان بوده و از سیاست ((بیطرفی فعال) کار گرفته است.

اکنون که از هر قشر و گروه و تنظیم و حزب و نهاد به خانهء ملت پای نهاده اند و میخواهند، بنای این بنیاد سیاسی قانونگزار را استوار سازند، باید به مبرم ترین و جدی ترین مسایل ملی و وطنی توجه کنند و به آن اولویت بدهند.

یکی ازین مسایل مبرم، تأمین امنیت و دیگر رعایت قانون است. بدون دسترسی به این دو اصل همهء بنیادهای ساخته و پرداخته، بر روی ریگ و مانند نقشی بر آب خواهد بود، طوریکه دیده میشود، در شورای ملی شمار زیادی از قوماندانان، رهبران گروههای مسلح و وابستگان به حلقات مسلح تشریف فرما شده اند و به کرسی های خانه ملت تکیه زده اند.

بنا بر آن ایجاب می کند که به منظور تأمین و استحکام امنیت پایدار سراسری در کشور و برای تعمیم قانونپذیری و رعایت قانون که تا کنون کمتر عملی شده و بیشتر از سوی حلقات بالا تر و مقتدر تر و مسلح تر به مخاطره افتاده، عالیجنابان وکلای شورا، این امر را دواطلبانه از خود بیا غازند.

ممکنست شماری از وکلا که پیش از ین سرگردگی گروهای مسلح را بدوش داشته اند، گروههای زیر فرمان خویش را منحل و مقداری از سلاحهای ثقیل و یا خفیف خویش را به مراجع مسوول تحویل کرده باشند، اما شمار زیاد دیگری هستند که به یاری همان نیروهای مسلح به پارلمان راه یافته اند و تا کنون به این کار نپرداخته اند.

درینصورت این وکلا چگونه خواهند توانست دو نقش را همزمان بازی کنند، هم نقش یک رهبر گروههای مسلح را در منطقه و ولایت خویش و هم نقش وکیل شورای ملی را در خانه ملت؟

بدین گونه وقتی وکیل قانونگذار دم از قانونگذاری میزند و در منطقه و ساحه زیر نفوذش مردم از قانون شکنی و بی امنی لفرادش شکوه دارند، چگونه میتوان پذیرفت، که این شخص میتواند وکیل شورای ملی باشد؟!

ازین گذشته این مسأله پیش میآید که وکیلان شورا باید مظهر صادق و واقعی قانون و رعایت قانون باشند. در غیر آن چگونه مردم از اصلی که در بالا مخدوش شده پیروی خواهند کرد؟ به استشهاد مقوله سعدی علیه الرحمه!

ای فقیه اول نصیحت کن تو نفس خویش را!!

امید است این مسأله در طرزالعمل و دساتیر مرعی الاجرای شورای ملی از سوی دار الانشاء و رهبری آن مورد تأمل جدی قرار بگیرد.

اسلامي افراطيانو او داړه مارانو ترمنځ نښته

پاکستاني چارواکي وايي چې د افغانستان په پوله پرتې قبايلي سيمه کې د اسلامي افراطيانو او داړه مارانو ترمنځ نښتو کې لږ تر لږه اوه تنه مړه شويدي. دغه مقامات وايي چې دا نښتي د چارشنبي په شپه د شمالي وزيرستان په سيمه کې شوی دی چې په دي کې څلور داړه ماران او دوه افراطيان وژل شويدي. د دي مياشتي د سر نه را په ديخوا افراطيانو او داړه مارانو ترمنځ نښتو کې ۱۵ تنه وژل شويدي. چې پکې ۱۰ داړه ماران دي. دغه غلو به موټري درولي او د سورلو نه به يي پيسي لوټلي. بلخوا د پاکستان په بلوچستان صوبه کې د ياغي قبايلو ترمنځ روانو شخړو کې د برق ستني نړول شوي او په دولتي ودانيو باندي حملي هم شويدي دغه سيمه کې د پاکستان فوځ دا پينځمه ورځ ده چې د ياغي بلوچ قبايلو په ضد عمليات کوي

سفیر جدید بریتانیا در کابل معرفی شد

وزارت خارجه بریتانیا، سفیر جدید این کشور در افغانستان را معرفی کرده است.

بر اساس نامه خبری منتشر شده از وزارت خارجه بریتانیا، استفن ایوانز(Stephen Evans)، جایگزین رزالیند مارسیدن سفیر فعلی این کشور در کابل می شود.

آقای ایوانز، ماموریت تازه خود در سفارت بریتانیا در کابل را، از ماه اپریل سال جدید میلادی آغاز خواهد کرد.

استفن نیکولاس ایوانز، پنجاه و پنج سال دارد و از ابتدای تشکیل حکومت جدید افغانستان پس از طالبان، به مدت یک سال، کاردار سفارت بریتانیا در کابل بوده است. ص۴

په هرات کې د وسلو پټې زيرمې پيدا او دايک ته وسپارل شوې

د هرات په ولایت کې پولیس توانیدلي چې ګڼ شمیر وسلی او د مرمیو غیر قانوني پټې زیرمې پیدا او دایك پروګرام ته یې وسپاري دا خبره د هرات ولایت د امنیی قوماندانی د عامه پوهاوی مسئول نورخان کړی دی نوموړی زیاته کړه مونږ د تیری اونی تولی شوی سپکی، درنی وسلی او مهمات د دایك پروګرام مشر جنرال عزیز الله فراهی ته په هرات ولایت کې تسلیم کړی پدې وسلو کې لس کلاشینکوف، یو راکت، دوه R.P.P یو خفیفه مایشنداره او پیشه وښودلی همدا راز په مهماتو کې د پنځه او یا میلیتری توپ، د زیکویو او یو سلو اوه توپ مرمی شاملی دی.

د ننګرهار د امنيي پر قوماندان وسله وال برید

د ننګرهار د امنیي پر قوماندان جنرال خلیل الله ضیایي وسله وال برید شوی دا وسله وال برید تیر ماښام د وریښمینو تنګي په سیمه کې هغه مهال وشو چې نوموړی له ننګرهار څخه کابل ته پر لاره د برید له امله هغه ته کوم زیان ندی وراوښتی یواځی د سپرلی موټر یې څه نا څه زیانمن شوی د ننګرهار د پولیسو د مشر جنرال ضیایي په وینا په دی پیښه کې خوا او شا د لویو لارو شپږ وتنه پولیس ټپیان شوی دی چې د دوو روغتیایي حالت یې نازك بلل شوی او د څلور نورو روغتیایي حالت یې د ډاد وړ وباله د پولیسو مشرو ویل: برید کوونکی له جګړی وروسته پر شا وتمبول شول او پولیسو د پیښی په تور څوك نه دی نیولی او نه یې هم مخامخ په چا پړه اچولی‌ده مګر برید کوونکی د هیواد دښمنان یولي او وایي چې د پیښې په اړه یې پلټنی روانی دی. مګر هغه څوك چې د طالبانو په استازیتوب خبری کوي خبری رسنیو ته یې د تیلفوني تماس په ترځ کې د پیښې پړه په ځان منلی او دپولیسو د مرګ ژوبلی دعوایي هم کړی ده.

وقوع انفجار

در اثر انفجاری در مسیر کاروان موتر های نیروهای ائتلاف دیروز در ولسوالی چپرهار ولایت ننگرهار یک موتر نیروهای ائتلاف منهدم شد این واقعه در منطقه گوداره این ولسوالی رخ داده که این مسیر را نیروهای ائتلاف جهت گزمه و کنترول مناطق توره بوره مورد استفاده قرار میدادند به گفته شاهدان عینی این انفجار مجروحینی هم داشته اما سخنگوی قوماندانی امنیه ولایت ننگرهار جراحت و تلفات را در این واقعه رد میکند این در حالیست که چندی قبل نیز یک ماین کار گذاری شده در راه کاروان موتر های یک موسسه در این ولسوالی انفجار نموده بود اما ماین بعد از گذشت این کاروان انفجار کرده و تلفاتی در قبال نداشت.

دستگیری سر دسته دزدان مسلح در بغلان

پولیس شاهراه در ولایت بغلان شب گذشته از دستگیری مردی خبر داد که بگفته آنها سر دسته شماری از دزدان مسلح در ولایت بغلان بود سمونوال سید آقا قوماندان کندک اول لوای نمبر دوم امنیتی شاهراه شمال و شمال شرق گفت: یک نفر بنام ختک که سرگروهی یک گروپ از دزدان را میکرد و پولیس در جستجوی نامبرده بود توسط پولیس در منطقه شمرق ولایت بغلان دستگیر گردید او ابراز امیدواری کرد که با دستگیری سر دسته دزدان میزان سرقت در ولایت بغلان نیز کاهش بیابد.

په هیواد کې د نوي پارلمان په وړاندې ستونزې

اشرف

د نړۍ په اوسنیو پرمختللو ټولنو کې د خپلې ټولنی د ژوندانه د هر اړخیز ښه والی او پرمختګ په بهیر کې په دموکراسي باندې زیاته تکیه لري ځکه چې هغه ټولنو د دموکراسی د اصولو او ښیګڼو په تر لاسه کولو سره په خپله ټولنه کې هر ډول دیکتاتورانه چلندونه پای ته رسولي دي او د آزادي او دموکراسي د ټولو اصولو په پلي کولو سره یې په خپلو حکومتونو او دولتونو باندې د انتقاد کولو او پیشنهاد کولو په برخه کې سترې بریاوی تر لاسه کړي دي.

> **په دولتي ادارو کې د کارکولو ځای ځینو داسې کسانو نیولی چې لوړی زده کړی او مسلکی پوهی نه لري په داسې کسانو کې ځینې وسله وال زور لري او ځینې یې ورته اړیکي او ارتباطات لري**

خو یوازې په وروسته پاتی ټولنو کې لا تر اوسه شته ځینې داسې حاکمي سیاسي کړي چې د خپلی واکمنی د پایښت او دوامداره پاتی کیدو په خاطر له دیکتاتورانه چلندونو څخه کار واخلي او کله نا کله دد موکراسي او ازادي اکټونه هم کوي او یوازې تش په نامه سره غواړي چې ددموکراسي انګازې خپرې کړي خو په واقعیت کې داسې کړی نه غواړي چې د موکراسي په خپلو اصلي اصولو سره پلي شي داسې کړی خلکو ته داسې څرګندوی چې ګنې دموکراسي او ازادی په ټولنه کې بی بند و باري رامنځته کوي او هر څوك له خپل صلاحیت، قدرت او حقوقو څخه د باندې حرکت کوي او د دموکراسی له نامه ناوړه استفاده کوي او یا خو په یوه مذهبي ټولنه کې د دموکراسی اصول د مذهب خلاف حرکت بولي.

خو باید ووایو چې د دموکراسی او ازادی، راوړل د نن په شرایطو کې د هرې ټولنی لپاره که چیرې په خلکو باندې تکیه لري او که چیرې د خلکو له خوا یو استازې مرکزي اداره جوړول غواړي دموکراسي او ازادی ورته ضروري ده خو د داسې ازادی او دموکراسی په دودولو سره لازمه ده چې موکراسي او ازادی د هرې ټولنی په دننه کې د هغې د کلتوری او مذهبی اصولو په پام کې نیولو سره داسې تطبیق شي او ومنل شي چې له جزئیاتو څخه یې تیر شي زموږ ټولنه هم چې یوه وروسته پاتی او له تعلیم څخه وروسته پاتی ټولنه ده د ازادی او دموکراسی په برخه کې یې تجربه کمه ده که څه هم د امیر امان الله خان په وخت کې چې کله د هغه امیر په وخت کې د اساسي قانون د تصویب لپاره لویه جرګه راوغوښتل شوه نو ښځو ته هم په کې برخه ورکړل شوه د ملت د بابا د واکمنی په وخت کې چې هیواد ته ازادی او دموکراسی ورکړل شوه زموږ ټولنه ذهناً او په تعلیمي لحاظ نه وه رسیدلی او په هغه وخت کې هم زموږ ځینو خلکو له ازادی او دموکراسی څخه سمه استفاده ونه کوله او وروسته چې کله د شوروي په راتګ سره د جګړو بهیر تود شو او افغانانو په خپلو کې سره ووهل او خپل وطن یې په خپله وران کړ نو له هغه وخت څخه زموږ په هیواد کې یو ځل بیا نوی په ښه ودریدلی دموکراسی او ازادی له خنډونو سره مخامخ شوه او د ملت په وړاندې سخت دیکتاتورانه حرکتونه را پیل شول.

د درو لسیزو په اوږده بهیر کې چې د خلکو د ازادی او دموکراسی په لاره کې د بندیزونو په برخه کې اګاهانه ګامونه پورته شول او واکمنو کړیو د خپلی واکمنی د ټینګښت لپاره بندیزونه رامنځته کړل دا بندیزونه روان وو تر هغه وروسته هم او بیا طالبانو هم په همدې لاره حرکت وکړ خلك د طالبانو په وخت کې هم د نوی حرکت هیله من وو خو په خوله یې څه نشوای ویلای خو کله چې په امریکا کې د سپتمبر د ۱۱ نیټې پیښه وشوه او د نړۍ اکثره هیوادونو د امریکا په مشرۍ د طالبانو په وړاندې راپورته شول هغه واکمني یې له منځه یووړه او په هیواد کې موقتي اداره جوړه شوه چې ورسره یوځه ازادی او دموکراسی هم راغله چې د هیوادوالو له خوا یې هر کلی وشو خو یوازې هغه څوك یې مخالف شول چې عملاً یې ګټې او څوکۍ په خطر کې شوی.

د طالبانو له تګ څخه وروسته هغه قوماندانان چې خپلې څوکۍ یې پریښې وې خپلې پخوانۍ څوکۍ یې په غنیمت سره ونیولې او وروسته په ارتباطاتو او تمایلاتو باندې نوری له مسوولیت څخه ډکې څوکۍ هم یو بل ته ورکړل شوی نسبی ورکړل شوی ازادی او دموکراسی له پوښتنی سره مخ شوه او له ازادی او دموکراسی څخه د ناوړی استفادی زمینه برابره شوه.

خپل سرې د بډو اخیستل د قانون او قانونیت شا ته غورځول، په شخصي او دولتي ملکیتونو باندې خیټې اچول دولتي عواید په خپلو جیبونو کې اچول دا او داسې نوری بدبختی او ناخوالی هم رامنځته شوی نو ستره بدبختي په ټولنه کې دا راغله چې له یوې خوا د ازادی او دموکراسی غږ پورته شو او له بلی خوا په دولتي څوکیو کې د ارتباطاتو او تمایلاتو په اساسي ټاکنی لا زیاتی شوی او خبره تردی پوری ورسیده چې د یو وزیر د وینا له مخې یو وزیر هم د خپلو رئیسانو له بر طرفی او په ځای د نوی رئیس له تقرر څخه عاجزه پاتی کیږي چې دا په یوه ټولنه ستره بدبختی بللای شو. د امیر حبیب الله خان له وخت څخه چې پدې هیواد تعلیم د بنسټ ډبره کیښودل شوی ده او مونږ تر دې دمه پورې په هیواد کې په لسونو او زرونو کسان په بیلا بیلو څانګو کې د متخصص په توګه لرو چې ان له بهر څخه یې په خپلو اړوند څانګو کې لوړ او عالي برې لیکونه تر لاسه کړي خو دا چې ارتباطات او اړیکي نه لري په دولتي ادارو کې د کارکولو ځای ځینو داسې کسانو نیولی چې لوړی زده کړی او مسلکی پوهی نه لري په داسې کسانو کې ځینې وسله وال زور لري او ځینې یې ورته اړیکي او ارتباطات لري چې موقتي ادارې، انتقالی ادارې او اوسنی مشرۍ تر اوسه پورې دا نیمګړتیاوی پوره نه کړای شوی ان چې ډیرو ښاغلو خپل خپلوان او د خپلی سیمی خلك یې د فرمایش له مخې رئیسان ټاکلی دی او همدا وجه ده چې قانون او قانونیت تر پښو لاندې شوی او خپل سرې رامنځته شوی ده او د جوال خوله یوځای نیول شوی ده داچې اوس پارلمان جوړ شوی دی پارلمان باید له دی املـه چې د خلکو استازی دی او د کمپاین په وخت کې یې خلکو ته ژمنی ورکړی باید خلکو او هیواد ته د مسوولینو او واکمنو استازو په توګه خپلی . ژمنی سرته ورسوي د ټولنی اوسنی بدبختی حل کړی او د مطبوعاتو له لارې د خلکو انتقادونه سرته ورسوي نو لازمه ده چې د بدبختیو او انتقادونو د رازیږیدلو اصلي علتونه له منځه یوسي.

هغه کسان چې په ټولنه کې قانونیت تر پښو لاندې کوي او خپل سرې یې رامنځته کړی ده مخ یې ونه نیول شي پارلمان به په خپلو دندو کې ناکام وبلل شي او د خلکو غوښتنه هم له خپلو استازو څخه داده چې په حکومت باندې څارنه او کنترول رامنځته کړي او د کابینې له وزیر څخه جلا جلا د کارونو د سرته رسولو او نیمګړتیاوو د شته والی پوښتنه وکړي د پارلمان د دندو په وړاندې چې کوم ستر خنډونه رامنځته کیږي او هغه ستر خنډ چې نور ټول خنډونه یې رازیږولی او یا یې رازیږولی شي هغه په هیواد کې په بیلا بیلو تنظیمونو پورې اړوند مسوول او غیر مسوول اشخاص دی چې وسلی نه تحویلوي او هغه څوکۍ چې یې نیولی نه یې خوشې کوي او یا دا چې په غیر مسلکي کارونو کې په کار کولو بوخت دی چې مونږ داسې ډیری بیلګی په مرکز، ولایاتو او ولسوالیو کې په ملکي او نظامي خواوو کې لیدلای شو که چیرې پارلمان په رښتینې توګه په هیواد کې اوسنی بدبختی او خپل سرې له منځه وړل غواړي باید تر هر څه د مخه او په لومړی ګام کې د دولت په ټولو ادارو کې د مسلك او تحصیل په پام کې غیر مسلکي اشخاص له دندو لرې شي کله چې د مسوولیت څوکی مستحقو اشخاصو ته ورکړل شي کارونه خپل پخپله قانونیت ته برابریږي له دی وروسته هر وزیر کولای شي چې خپلې ورسپارل شوی کارونه په سمه توګه سرته ورسوي او هیواد بیرته د قانونیت خواته برابر کړی که څه هم په هیواد کې د همدغه انتقادونو په پام کې نیولو سره د اصلاحاتو کمیسیون په کار پیل کړی دی خو دا بهیر ډیر ورو روان دی لازمه دا وه چې باید ژر تر ژره دا کار پای ته رسیدلی وای خو لا تر اوسه مرکزي ادارو کې هم اصلاحات سرته نه دی رسیدلی او اداری اصلاحاتو کې د یوې اداری مسوول ته پوره واك ورکړل شوی چې په خپله اداره کې یې څوك خوښ وی هغه منل کیږي له دی څخه دا څرګندیږي چې دغه اصلاحاتي اداره هم په خپلو کارونو کې کامیابه نده او نشي کولای چې حق حقدار ته وسپارلای شي تر هغه چې اداري اصلاحات قانوناً سرته ونه رسیږي وسله وال بی زوره نشي وسلی په پوره قوت سره تری ټولی نشي پرتی ستونزې نه شي کیدای زموږ پارلمان به هغه وخت موفق وی چې وسله وال زور مندان چې همدغو تنظیمونو غړی دی او په پارلمان کې هم تنظیمي مشران اکثریت دي بی زوره او وسلی تری ټولی کړای شي ځکه دوی د جهاد په وخت کې هم خلکو ته د خدمت تېر وهلی دی اوس دا دی پارلمان ته هم راغلل نو باید تر هر څه لومړی همدغو ستونزی لری کړي او د دولتي څوکیو په ورکړه کې حق حقدار ته وسپاري.

> **هغه کسان چې په ټولنه کې قانونیت تر پښو لاندې کوي او خپل سری یې رامنځته کړی ده که مخه یې ونه نیول شي پارلمان به په خپلو دندو کې ناکام وبلل شي .**

د ملي شورا او دهغې د رئیس مسوولیت

شورای ملی در پرتو قانون اساسی

پوهندوی داکتر فاروق بشر

درین مقاله آرزو دارم شورای ملی و وظایف آنرا از نظر قانون اساسی مورخه ۱۴ جدی ۱۳۸۲ هجری شمسی ارزیابی کرده و مواردی را که نقطه تماس با قوه اجرائیه دارد روشن سازم. ولی قبل از اینکه به شرح مطلب آغاز کنم باید مختصری در مورد سیستم های سیاسی صحبت کنم.

در جهان امروز منحیث کل دو نوع سیستم سیاسی وجود دارد، یکی را سیستم پارلمانی و دیگری را سیستم پریزنتیشن یا جمهوری گویند. در سیستم سیاسی پارلمان حکومت از بطن پارلمان تعیین میشود. یا بعباره دیگر در سیستم پارلمان رئیس حکومت از حزب اکثریت در پارلمان تعیین میشود. در این سیستم مردم بصورت مستقیم برای نمایند گان ملت در انتخابات رای میدهند. حزبی که در پارلمان اکثریت را بدست آورد. رئیس آن حزب بحیث صدر اعظم از طرف رئیس دولت پذیرفته میشود. نمونه این سیستم را می توان در انگلستان مثال داد. در انگلستان در حال حاضر حزب اکثریت را در پارلمان Tony Belair تونی بلیر که رئیس حزب کارگر پارلمان انگلستان است تمثیل می کند. ملکه انگلستان او را بحیث صدر اعظم انگلستان عز تقرر میدهد.

در سیستم سیاسی جمهوری، مردم برای شخص که خود را بحیث رئیس جمهور کاندید کرده رای میدهند، نباید ناگفته ماند که در سیستم ریاست جمهوری کاندیدان هر حزب سیاسی نماینده خود را برای احراز آن چوکی کاندید می کنند و مبارزه انتخابی اغاز و مردم مستقیماً برای کاندید دلخواه خود رای میدهند، هر حزبی که اکثریت را در انتخابات بدست آورد، آن شخص بحیث رئیس جمهور تعیین میشود. در سیستم سیاسی امریکا که سیستم جمهوری دارد، مردم اول در سابق برای Electro College رای میدادند وسپس الکترو کالج از طریق رای سری برای کاندید مطلوب خود رای میدادند.

در سالهای اخیر از اول کاندید مقام ریاست جمهوری معلوم و هر آن حزبی که تعداد بیشتر الکترو کالج را بدست آورد، ولو آنکه Populer Vote کمتر هم بدست آورده باشد بحیث رئیس جمهور احراز کرسی می کند.

> **قانون عبارت از مصوبه است که از طرف مجلسین شورای ملی وضع، بعد از توشیح رئیس دولت اعلان در جریده رسمی بر همه یکسان تطبیق شود.**

آرزو ندارم بیش از این در این مقاله مختصر در مورد سیستم های سیاسی معلومات بیشتر ارایه کنم. هدف من از این مقاله صلاحیت های شورای ملی و سیستم سیاسی را که ما داریم میباشد.

حال باید به مواد قانون اساسی خود مراجعه و دریابیم که:

- افغانستان چه نوع سیستم سیاسی دارد و شورای ملی چیست؟

سیستم سیاسی افغانستان را ماده شصتم قانون اساسی در فصل سوم جمهوری تثبیت کرده است که رئیس جمهور از طرف مردم برای مدت پنج سال از طریق آرای ازاد، عمومی، سری و مستقیم انتخاب میشود.

بناءً سیستم سیاسی افغانستان یک سیستم جمهوری میباشد.

البته در مقاله آینده از نظر قانون اساسی بر صلاحیت های رئیس جمهور صحبت خواهم کرد.

ماده هشتاد و یکم قانون اساسی شورای ملی را (به حیث عالیترین ارگان تقنینی) شناخته و آنرا بحیث (مظهر اراده مردم) شناخته که از (قاطبه ملت نمایندگی می کند) به اساس این ماده (هر عضو شوری در موقع اظهار رای، مصالح عمومی ومنافع علیای مردم افغانستان) را مدار قضاوت قرار میدهند). بناء وکلای شورای ملی که متشکل اند از نمایند گان قاطبه مردم افغانستان حین تصدی شان در شوری بحیث نماینده مردم افغانستان اجرای وظیفه نموده، نه آنکه تنها منافع محلی را که از انجا بحیث وکیل انتخاب شده است. هر وکیل شوری در هنگام اجرای وظیفه در حقیقت نماینده تمام مردم افغانستان است و نزد تمام ملت مکلفیت دارد.

شورای ملی مطابق احکام ماده هشتاد و دوم قانون اساسی از دو مجلس ترکیب یافته که یکی را ولسی جرگه و دیگری را مشرانو جرگه گویند. یک وکیل نمی تواند در یک وقت در هر دو مجلس عضویت داشته باشد.

اعضای ولسی جرگه برای مدت پنج سال از طرف مردم انتخاب میشوند. قانون اساسی حد اکثر تعداد اعضای ولسی جرگه را به ۲۵۰ نفر قید کرده ولی قانون انتخابات این تعداد را به ۲۴۹ نفر که از این جمله ۱۰ نفر آنرا نماینده گان کوچیان تشکیل میدهند تثبیت کرده است.

ماده ۸۶ قانون اساسی در مورد انتخاب و انتصاب اعضای مشرانو جرگه طرز العمل خاصی را پیش بین شده است. از جمله ۱۰۲ نماینده مشرانو جرگه یک ثلث را اعضای شورای ولایتی جرگه که برای چهار سال و شورای های ولسوالی های هر ولایت ثلث دیگر را برای سه سال و ثلث اخیر را رئیس جمهور از جمله شخصیت های خبیر و با تجربه برای پنج سال انتصاب می نماید. که درین ثلث اخیر دو نفر باید نماینده گان معلولین و معیوبین و دو نفر از نماینده گان کوچی ها باید تعیین شود. قانون نصف ثلث اخیر را به زنان کشور مختص ساخته است. عدهٔ از مردم ما در مورد انتصاب ثلث اخیر از طرف رئیس جمهور سوالها و انتقادات جدی دارند، مردم ما باین عقیده اند که تعدادی از اعضای مجلسین شورای ملی کسانی اند که تاریخ آنها را بحیث آدمکشان حرفوی و جنایت کاران می شمارند. این نوع اشخاص به عقیده مردم ما بعوض انکه به پای میز محاکمه و حسابدهی کشانیده میشدند در عوض سرنوشت همین مردم بربادفنارفته ما را بدست شان دادند.

ماده هشتادو پنجم قانون اساسی راه یافتن به شورای ملی را مقید به موازین خاصی نموده است مثلاً کاندیدان باید تبعه افغان بوده، محکمه انها را به جرایم ضد بشری جنایت و یا حرمان از حقوق مدنی محکوم نکرده و باید سن معینی داشته باشند در جمله کاندیدان شورای ملی، ملت را عقیده بر این است که کمیسیون عالی انتخابات وظایف خاص خود را بنا بر هر ملحوظ و خاطری که بوده، ایفا نکرده برای آدمکشان، تبهکاران و تفنگ سالاران موقع داده شده تا بحیث نماینده ملت کاندید و این تفنگ بدستان و قاتلان، آنچنانکه توانستند بر کمیسیون انتخابات نفوذ انداخته برایشان اجازه کاندید شدن را داد، از طریق زور و زر ملت مظلوم ما را نیز خریدند و بحیث نماینده مردم در شورای ملی راه یافتند، مردم ما را عقیده برین است که اجازه دادن به همچو اشخاص یک گناه تاریخی بوده و خداوند آنها را عفو نخواهد کرد.

تشکیلات داخلی (ولسی جرگه و مشرانو جرگه را قانون وظایف داخلی هر مجلس تعیین خواهد کرد. قانون برای هر مجلس یکنفر رئیس، دو نفر نایب و دونفر منشی تعیین کرده، که این اشخاص هیأت اداری هر یک جرگه را تشکیل میدهند. هر مجلس غرض رسیدگی بر موضوعات مورد بحث مطابق اصول داخلی جرگه، کمیسیون ها تشکیل میدهند.

در جلمه صلاحیت های ولسی جرگه موارد ذیل جلب توجه می کند:

ولسی جرگه می تواند مطابق مندرجات ماده هشتادونهم قانون اساسی باثر پیشنهاد یک ثلث اعضا، غرض بر رسی اعمال حکومت، کمیسیون خاص تعیین کند. در این ماده مشخص نشده که هدف از یک ثلث اعضا. عبارت ازاعضای حاضر جلسه همان روز مجلس ولسی جرگه میباشد و یا کل اعضا چنانچه در ماده ۹۲ قانون اساسی مشخص شده است؟

> **هر وکیل شوری در هنگام اجرای وظیفه در حقیقت نماینده تمام مردم افغانستان است و نزد تمام ملت مکلفیت دارد.**

از جمله صلاحیت های شورای ملی ماده ۹۰ قانون اساسی وظایف ذیل را مشخص کرده است.

((تصویب، تعدیل یا لغو قوانین و یا فرامین تقنینی، تصویب پروگرامهای انکشافی، اجتماعی، فرهنگی، اقتصادی وتکنالوژی)).

((تصویب بودجه دولتی و اجازه اخذ یا اعطای قرضه)) نیز از جمله صلاحیت های شورای ملی میباشد.

شورای ملی می تواند واحد های اداری حکومت را تعدیل یا لغو کرده، میثاقهای بین المللی را تصدیق یا فسخ الحاق افغانستان را در آن اعلان کند.

ماده ۹۱ برای ولسی جرگه صلاحیت خاصی نیز داده است که از آنجمله:

۱. اتخاذ تصمیم در مورد استیضاح از هر یک از وزرا مطابق به حکم ماده ۹۲ این قانون اساسی.

۲. اتخاذ تصمیم راجع به پروگرامهای انکشافی و بودجه دولتی.

۳. تائید یا رد مقرریها مطابق به احکام این قانون اساسی.

انچنانکه ذکر شد که ولسی جرگه مطابق احکام ماده ۹۲ قانون اساسی صلاحیت دارد هر یک از وزرای دولت را مورد استیضاح قرار دهد، طرز العمل استیضاح را ماده ۹۲ مشخص کرده است.

بر اساس احکام این ماده باید ۲۰ ٪ اعضای کل ولسی جرگه پیشنهاد نماید تا یک وزیر کابینه مورد استیضاح قرار گیرد، هر گاه و زیرکه تحت استیضاح قرار میگیرد نتواند بصورت قناعت بخش استیضاح دهد (ولسی جرگه موضوع رای عدم اعتماد را بر رسی می کند).

این ماده مشعر است که : ((موضوع رای عدم اعتماد از وزیر باید صریح، مستقیم و بر اساس دلایل موجه باشد. این رای به اکثریت آرای کل اعضای ولسی جرگه صادر می گردد)).

ماده ۹۳ برای ((هر یک از کمیسیونهای هر دو مجلس شورا ملی)) صلاحیت داده تا از یک وزیر در موارد و موضوعات معیین سوال کند. وزیر می تواند، جوابی سوال را تحریری یا تقریری ارایه کند.

ماده ۹۴ قانون را از نظر معنی تعریف نموده ولی تشکیلاتی را که قانون می پیماید تذکر نداده است. قانون از نظر شکلی که معنی نیز در آن مستعمر است باید چنین تعریف شود:

قانون عبارت از مصوبه است که از طرف مجلسین شورای ملی وضع، بعد از توشیح رئیس دولت اعلان در جریده رسمی بر همه یکسان تطبیق شود.

به نظر من هر مصوبه شورای ملی را نمی توان قانون گفت: قانون باید دارای معنی وشکل باشد، درین ماده قانون حالاتی را که در جهان امروز بنام Vito یا رد قانون میداند شرح نموده است، این ماده برای رئیس جمهور صلاحیت داده تا در مدت ۱۵ روز مصوبه را رد و یا قبول کرده امضاء نماید. هر گاه رئیس جمهور در مدت ۱۵ روز با مصوبه شورای ملی موافقه نکرد، می تواند مصوبه را به شورای ملی با ذکر دلایل به ولسی جرگه مسترد نماید، در صورتیکه رئیس جمهور در مدت ۱۵ روز مصوبه را مسترد نکرد یا ولسی جرگه بعد از استرداد، آن مصوبه رد شده را مجدداً با دو ثلث آرای کل اعضای ولسی جرگه تصویب نمود، مصوبه توشیح شده محسوب و نافذ می گردد. این پروسه، در علم حقوق بنام رد یا Vito یاد میشود. در آیالات متحده امریکا یکنوع Vito دیگری هم وجود دارد که آنرا بنام Pocket Vito یاد می کنند. پاکت ویتو هنگامی صورت می گیرد که کانگرس امریکا غرض ایام رخصتی، دووه اجلاس را پایان داده و از رخصتی های قانونی خود استفاده می کنند، درین وقت هر گاه مصوبه کانگرس نزد رئیس جمهور برسد و آنرا امضاء نکرده ومیعاد قانونی بر آن سپری شود مصوبه کانگرس در حقیقت بدون انفاذ می ماند و زمان تصویب بنا بر رخصتی اعضای کانگرس منتقضی میشود.

از نظر حکم ماده ۹۵ قانون اساسی (پیشنهاد طرح قانون از طرف حکومت یا اعضای شورا و در ساحه تنظیم امور قضایی از طرف ستره محکمه توسط حکومت صورت گرفته می تواند. ولی پیشنهاد طرح قانون در مورد بودجه و امور مالی صرف از طرف حکومت صورت می گیرد در این ماده ۲ موضوع جلب توجه می کند.

یکی اینکه پیشنهاد طرح بودجه و امور مالی از جمله صلاحیت های حکومت بوده و دوم اینکه ستره محکمه باید در ساحه تنظیم امورمالی اگر پیشنهادی به شوری داشته باشد باید از طریق حکومت آنرا ارایه کند.

ماده ۹۶ قانون اساسی حالتی را تنظیم می کند هر گاه پیشنهاد طرح قانون، حاوی تکلیف جدید یا تنقیص در عایدات دولت باشد، بشرطی در فهرست کار ولسی جرگه داخل میشود که در متن پیشنهاد، مدرک جبران نیز پیش بینی شده باشد.

هدف از این ماده این است که زمانی حکومت طرح قانون را که متضمین تکلیف جدید مالی باشد به شورا ارایه می نماید، بایذ توضیح کند که مصارف مالی آن طرح از کدام مدرک یا فصل و باب بودجه تمویل شده می تواند.

ماده ۹۷ و ۹۸ قانون اساسی بر تشکیلات طرح پیشنهاد شده قانون از طرف حکومت بحث می کند که ایجاب تبصره را بر آن نمی بینیم.

ماده ۹۹ قانون اساسی حالاتی را خاطر نشان ساخته که به طرز العمل داخلی شوری روشنی می اندازد، این ماده مشعر است ((در صورتیکه در اجلاس شورای ملی، بودجه سالانه با پروگرام انکشافی با موضوع مربوط به امنیت عامه، تمامیت ارضی و استقلال کشور مطرح باشد مدت اجلاس شوری، قبل از تصویب آن خاتمه یافته نمی تواند)).

ادامه دارد...

ACKU

حال میتوانم به رویا های خود اعتماد کنم
دریافت و ارسال پول در طی چند دقیقه محدود به سراسر دنیا. *
© 2005 Western Union Holdings, Inc. All Rights Reserved.
WESTERN UNION
انتقال پول
کابل بانک
Kabul Bank

ضرورت به حساب بانکی نبوده و دریافت کننده مکلف به پرداخت هیچ نوع فیس نمی باشد.
شما میتوانید از ۱۹۵ کشور پول دریافت و یا به آن، ارسال نمائید.
این خدمات در بامیان، غزنی، حیرتان، هرات، اسلام قلعه، جلال آباد، شهر کابل، قندهار، خوست، کندز، مزارشریف و زرنج موجود است.

* تابع اوقات فعالیت نمایندگی های دریافت کننده میباشد.

۰۷۹ ۵۸۰۴۴۴ / ۰۷۰ ۲۹۹ ۲۴۱
۰۷۹ ۲۷۰ ۰۱۹ / ۰۷۰ ۲۷۰ ۰۱۹

د کابل سوړ ژمی او دخلکو بې روزګاری!

عبدالطیف "منت بار"

د کابل پخوانی څیره د اوسنی سره زیات توپیر لری که په پخوا وختونو کې په کابل کې یوازی دلیلیه ښوونځیو زده کوونکو بودوباش در لوده او دکابل ساحه کې پراخه وه چې د مرغان پر وهل به له ورایه په کې معلومیده. خو نن ورځ د کابل ښار دومره په نفوسو ډك دی چې څوك كه عاجل كار هم ولی په نیم ساعت کې له ګڼی ګوڼی نه، نه شی وتلی او که د کوما په حال کې ناروغ روغتون ته ځان رسول وغواړی له همدغی ستونزی سره په مخامخ کیدلو سره به یې ناروغی خو برابره زیاته شوی وی.

ښه مې په یاد دی کله چې مرحوم غلام محمد فرهاد کابل ښاروال و او د جادی سرك ته یې د پامیر د سینما نه دحضوری چمن تر دری لاری پوری پراخوالی ورکوو نو خلکو به ورباندې نیوکې نیولی چې سرك نه دی د الوتکو له پاره میدان جوړیږی! خو په اوس وخت کې چې په کابل کې ګڼه ګوڼه زیاته شوی هماغه د الوتکو میدان بیا هم کوچنی معلومیږی او ډیر ګاډی د تیریدلو په وخت کې د ستونزو سره مخامخ کیږی. ددی په څنګ کې ترافیکی مسولین د سرکو په غاړو او څنډو باندی پابندی لګولی چې هیڅوك دی د سرکونو په سر د راکړی ورکړی چاری نه ترسره کوی او لاری دی کوچنیو عرادو پرمخ پرانستی پاتی وی.

دلته زیات سوالونه را ولاړیږی او هغه دا چې زموږ زیاتره هیواد وال چې د لاس په خوځولو سره د خولی د خوځولو له پاره زمینی برابروی او په لاسی ګاډو کې د وچو او تازه میوو او لیلامی توکو د پلورلو په بدل کې یوه مړی ډوډۍ لاس ته راوړی چیری لاړ شی او له کومی لاری نه خپلی ستونزی اواری کړی. که د سرکونو په څنډو کې خپله غریبی کوی نو د پولیسانو د ډبولو سره مخامخ کیږی او که چیری خپل ورځنی مصروفیتونه شا ته غورځوی کوچنیان او واړه ماشومان یې وږی پاتی کیږی او له بلی خوا د دولت د بیا رغاونی پروژی هم په تپه ولاړی دی چې دوی لاړ شی په کار کې شامل شی او دکار په بدل کې دی څه نا څه مزد او یا اجوره تر لاسه کړی نو بیا دی ته اړتیا پیدا کوی چې یا غلا وکړی او یا د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د وطنوالو جیبونه سوری کړی او په خپل مهارت سره څه ناڅه ترینه تر لاسه کړی! په دی ځای کې که بخت یاری ورسره وکړه څه ناڅه شو که به وکړی او که ونیول شو نو بیا به دخپلو اعمالو په سزا رسیږی بند به ګالی، کړاوونه به تیروی او هلته به یې واړه ماشومان له لوږی مری.

نن ورځ چې زموږ په هیواد کې مفاسد تخریبات، شکونی، غلا او داسی نوری ناوړی چاری ورځ په ورځ زور اخلی او دز یاتوالی په حال کې دی یوازینی موخه یې بیکاری او بی روزګاری ده چې زموږ زیات وطنوال یې د ستونزو سره مخامخ کړی وی.

څنګه به ښه وای چې دولت په څنګ کې خصوصی متشبسینو هم په یو لړ پروژو لاس پوری کړی وای او خپلی شتمنی په ټولنیزو چارو کې په کار اچولی وای چې له یوی خوا به یې ګټه ځان ته هم رسیده او له بلی خوا به یې خپلو بی وسو وطنوالو ته د کار وسیلی برابری کړی وی.

دا یو ټولنیز کار دی باید د همدغو لاری نه هم خرما تر لاسه شی او هم ثواب!

د ولسي جرګي د رییس ...

په نظر کې دي چې څو ورځې وروسته د ولسي جرګې د دارلانشا غړي یا منشیان هم وټاکل شي. د ولسي جرګې ریس محمد یونس قانوني وویل چې دی به له دې وروسته د اپوزیسیون یا د حکومت د مخالفې ډلې مشري نه کوي بلکه د ټولې ولسي جرګې استازیتوب به کوي. ښاغلي قانوني وویل: ما مخکې هم په وار وار ویلي وو چې که د ملت استازي د ولسي جرګې د ریاست لپاره د باور رایه راکړي او زه د جرګې مشر شم نو د مخالفې ډلې یا اپوزیسیون مشر توب به پریږدم.

حکم اعدام برای ...

پس از اقامه دعوا علیه هر یک از این متهمان، عبدالباسط [illegible]باری قاضی محکمه ابتدایه، آنها را مجرم شناخت و سردسته این گروه تیمورشاه و یکی از همکاران او را به خاطر قتل یک بازرگان افغان و ربودن خانم کانتونی به اعدام محکوم کرد.

متهم سوم نیز به بیست سال حبس محکوم شد.

تاجری که تیمورشاه مسوول قتل او شناخته شده عبدالحفیظ خدران بوده است.

این گروه در ماه می سال جاری میلادی کلمنتینا کانتونی شهروند ایتالیایی را که برای یک سازمان امدادرسان موسوم به تیمار بین الملل در افغانستان کار می کرد، در یکی از جاده های پر رفت و آمد کابل ربودند.

نیروهای امنیتی پس از سه هفته تلاش و تحقیق و برقرار کردن رابطه با رابایندگان موفق به آزاد کردن این امدادگر شدند.

وزارت داخله کشور پس از آزادی خانم کانتونی اعلام کرد که آنها برای رهایی این گروگان هیچ شرطی را قبول نکرده اند.

اما تیمور شاه متهم اصلی این دوسیه در جلسه محکمه اعلام کرد که سفارت ایتالیا به او وعده پرداخت دوصدهزار دلار را داده اما کمتر از چهل هزار دلار به او داده شده است.

تیمور شاه یک بار در منطقه سالنگ در شمال کابل بدست پلیس افتاد اما در اثر درگیری سربازان اردوی و پلیس، موفق به فرار شد.

تیمورشاه ادعا می کند که او در آن لحظه به نیروهای اردوی ملی سه هزار دلار داده تا زمینه فرار او از دست پلیس را فراهم کنند.

پلیس بعد از مدتی او را مجدداً دستگیر کرد.

این متهمان دو محاکمه دیگر نیز در پیش دارند و حکم نهایی در مورد آنها ممکن است تغییر کند.

سفیر جدید بریتانیا در...

آقای ایوانز، پیش از آن نیز، در سالهای ۱۹۹۶ و ۹۷ میلادی، معاون دفتر ویژه سازمان ملل متحد در امور افغانستان بوده است.

او همچنین در فاصله سالهای ۱۹۷۴ تا ۲۰۰۵ میلادی، ماموریتهای متعددی از سوی بریتانیا در کشورهای ویتنام، تایلند، ترکیه، پاکستان و سریلانکا داشته است.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

ERADA Daily

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نوسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
Engineerjamil_amiry@yahoo.com